AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅړ ۲۰۲۴/۰۵/۱۳

# د يهودو عادلانه جګړې

(دوه دېرشمه برخه)



(په غزه کې د ماشومانو پر وړاندې، د صهيونستي ترهګرو وحشيانه کړنې.)

**د اسراييلو قوم غوره کول، مشروط پر څو ډوله اطاعتونو (۲)**

**د بتانو د نه لمانځلو ښوونې؛ د منلو (اطاعت) بدل او مکافات؛ سرغړونې (نااعطاعتی) او د يهوه خدای ګوتڅنډنه:**

د يهودو شريعت د يهوه خدای پر (لسو حکمونو) څرخېږي او د يهودي شريعت ټول احکام له دغو لسو فرمانونو سره تړاؤ لري چې په اصل کې د اصلي تورات همدا لس فرمانونه وو چې يهوه خدای د (حوريب)[1] په غره کې د تيرو پر دوو تختو، په خپله ليکلي او موسی ته ورکړي وو[2]. په دغو لسو فرمانونو کې لومړی يهوه خدای ځان معرفي کوي او څوک چې مخالفت ورسره وکړي تر څلورو نسلونو پورې سزا ورکوي خو څوک چې اطاعت وکړي، تر زرم پښته پورې به رحمتونه پرې ورېږي. په دويم حکم کې له بتپرستۍ څخه منع کول راغلي دي. په دغو حکمونو کې نور ټول حکمونه وکړه، مه کړه (امرونهي) دي، که اسراييلو د دغو احکامو اطاعت ونه کړ نو کبيره ګناه يې کړې ده خو د بتپرستۍ ګناه بيا تر ټولو لويه ګناه ده او په دې نړۍ[3] کې تر ټولو سخت مجازات لري. لاندې لس حکمونه ولولئ:

[1]:د ګردان کتاب:۵/۲-۳.
[2]: د قرآن کريم د اعراف سورت په:۱۴۵-۱۵۰-۱۵۴آيتونو کې هم يادونه شوي ده.
[3]: يهود په بله نړۍ، بيا راژوندي کيدو، دوزخ او جنت باندې باور نه لري، د يهودو د تورات په پنځو کتابونو (چې د شريعت کتابونه يې بولي) د دوزخ او جنت په اړه هېڅ نه شته، يهود يوازې دغه نړۍ دوزخ او جنت بولي چې وروسته به پوره مالومات وړاندې شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

«زه یهوه ستا خدای یم، هماغه خدای، چې ته مې د مصر له اسارت او مریېتوب (غلامۍ) څخه آزاد کړې.
**له ما پرته دې ستا نور خدایان نه وي.**
**هېڅ ډول بت، هغه که د ځناور وي، یا الوتونکی مرغه، یا کب (ماهی) وي د ځان لپاره مه جوړوه، د هغوي پر وړاندې ګونډې مه وهه او د هغوی عبادت مه کوه،** ځکه چې زه ستا یهوه خدای یم، غیرتي خدای. او هغه کسان چې له ما سره دښمني وکړي تر دریېم او څلورم نسل پورې سزا ورکوم. **خو څوک چې له ما سره مینه ولري او زما اوامر پلي کړي، تر زر پښتو پورې رحمت پرې نازلوم.**
زه چې یهوه خدای یم، **زما له نوم څخه ناوړه ګټه مه اخله.** که زما نوم دې په سپکه یاد کړ او یا دې پر هغه د درواغو لوړه وکړه، تا ته سزا درکوم.
**د سبت (شنبې) ورځې په یاد ولره او هغه سپیڅلې وبوله، په اونۍ کې شپږ ورځې کار وکړه خو په اوومه ورځ چې (د یهوه خدای سبت)[4] ده، هېڅ ډول کار مه کوه، نه ته، نه ستا زوی، نه ستا لور، نه ستا غلام، نه ستا مینځه، نه ستا میلمانه او نه ستا څاروي.** ځکه چې یهوه خدای په شپږو ورځو کې آسمان، ځمکه، سیندونه او هر څه چې د هغو په منځ کې دي جوړ کړل او په اوومه ورځ یې له کاره لاس واخیست. نو ده، د (سبت) ورځ مبارکه وبلله او هغه ورځ یې د دمې (استراحت) ورځ وټاکله.
**پلار او مور ته درناوی کوه** چې په هغه ځمکه کې (چې ستا یهوه خدای یې تا ته وبښي) اوږد عمر ولرې.
**قتل مه کوه.**
**زنا مه کوه.**
**غلا مه کوه.**
**درواغ مه وایه.**
**د نورو مال او ناموس ته د تمې په سترګه مه ګوره.**
**د خپل ګاونډي د غلام، مینځې، غوا، خره او مال د خپلولو په فکر کې مه اوسه.»**
(د هجرت کتاب:۲۰/۱تر۱۷پورې؛ د ګردان کتاب:۵/)
سربېره پر لسو فرمانونو، موسی او نورو اسراییلي پیغمبرانو او انبیاوو پرلهپسې اسراییلو ته د اطاعت ښوونه کړې ده چې موسی په دې لاره کې ډېر زیار ګاللی دی، هغه وایي:«زه ستاسو یهوه خدای یم. **تاسو د بتپرستانو په څېر چلند مه کوئ،** یانې د مصریانو په څېر چې تاسو د دوی په هېواد کې اوسېدلې یاست او یا د کنعانیانو په څېر (چې زه غواړم تاسو د هغوی هېواد ته ورسوم) **یوازې زما له اوامرو او قوانینو اطاعت وکړئ او هغه پر ځای کړئ،** ځکه چې زه ستاسو یهوه خدای یم. **که تاسو زما له قوانینو اطاعت وکړئ، نو ژوندي به پاتې شئ.»** (د لاویانو کتاب:۱۸/۱تر۵پورې)
موسی اسراییلو ته وویل چې تاسو د یهوه خدای څېره نه ده لیدلې نو د هغه په نوم هېڅ ډول بت جوړ نه کړي:«هغه ورځ چې د حوریب په غره کې یهوه خدای د اور له منځه له تاسو سره خبرې کولې، د هغه څېره او مخ مو ونه لید، **نو پام کوئ چې د بتانو په جوړولو ځانونه ناولي نه کړئ، یانې د سړي، ښځې، څاروي، الوتونکي مرغه، خوځنده ساکښ (حشراتو) او یا د کب په څېر د بتانو جوړل. او کله چې آسمان ته وګورئ، نو لمر، سپوږمۍ او ستورو (چې یهوه خدای د ځمکې پر مخ د ټولو قومونو لپاره جوړ (خلق) کړي دي) عبادت ونه کړئ.»** (ګردان:۴/۱۵تر۱۹پورې)
«یهوه خدای له موسی غوښتنه وکړه چې د اسراییلو قوم ته ووایي: تاسو ولیدل چې څرنګ مې له تاسو سره له آسمانه خبرې وکړې. **نور نو د ځان لپاره له سرو او سپینو زرو خدایان مه جوړئ او د هغو عبادت مه کوئ.»** (د هجرت کتاب:۲۰/۲۲-۲۳)
«هغه څه مې چې تاسو ته وویل اطاعت یې وکړئ، **د غیرخدایانو پر وړاندې دعا مهکوئ، ان نوم یې په ژبه مه اخلئ.»** (هجرت:۲۳/۱۳)

## د اطاعت بدله او مکافات

د اسراییلو خدای یهوه له خپل قوم سره دا ژمنه هم کړې وه چې که د بتانو عبادت ونه کړي او اطاعت وکړي نو په بدل کې به ډول، ډول رحمتونه او سوکالي پرې نازله کړي، غلې دانې به یې زیاتې کړي، دښمنان به یې له منځه یوسي او په امنیت کې به ژوند وکړي. یهوه خدای وویل: **«د ځان لپاره بتان مه جوړئ، مجسمې، د تیږو متې (ستنې) او توږلې تیږې د عبادت لپاره مه جوړوئ،** ځکه چې زه ستاسو یهوه خدای یم. زما د سبت (شنبې) ورځې د قانون اطاعت وکړئ او زما عبادتځای محترم وبولئ، ځکه چې زه یهوه یم. که تاسې زما د ټولو اوامرو اطاعت وکړئ، نو په خپل وخت به باران درولېږم، ځمکه به حاصل او ونې به میوې درکړي، ستاسو درمندونه به تر هغې زیات شي چې د هغوی غوبل

[4]: د یهودو د خرافاتو څخه یوه هم د (سبت یا شَبّات) ورځ ده یهود په دې ورځ هر ډول کار کول حرام او ګناه بولي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

به د انګورو تر ټولولو پورې دوام وکړي او ستاسو انګور به دومره ډېر وي چې ټولول به يې د راتلونکي فصل تر کرلو پورې دوام ولري. پوره خواړه به ولرئ، په خپل هېواد کې به په امن کې و اوسېږئ، ځکه چې زه به ستاسو هېواد ته سوله او آرامي وروبښم او تاسو به آرام خوب وکړئ، ستاسو له هېواده به خطرناک ځناور لرې کړم، ستاسو له خاورې به توره [لښکر] تېر نه شي. ستاسو دښمنان به تعقيب کړم او هغوی به ستاسو پر تورو باندې ووژنم. ستاسو پينځه تنه به د دښمن سل کسان تعقيب کړي او ستاسو سل تنه به [د دښمن] لس زره کسانو ته [ماتې ورکړي.] ستاسو ټول دښمنان به مات کړم. پر تاسو به مهرباني وکړم، د وګړو شمېر به مو زيات کړم او ستاسو سره چې ما کوم تړون کړی هغې ته به ژمن پاتې شم... زه به ستاسو په منځ کې استوګن شم، تاسو به ونه شړم، ستاسو په منځ کې به په لاره وګرځم او زه به ستاسو خدای وم او تاسو به زما قوم واست.» (لاويان:۲۶/۱تر۱۲پورې)

## د اسراييلو نااعطاعتۍ، د يهوه خدای ګوتڅنډنه

لکه څرنګه چې د اطاعت کولو په بدل کې د اسراييلو قوم ته د دوی د خدای يهوه لخوا اجر ورکول کېږي، برعکس، د نه اطاعت له امله له سختو سزاوو سره هم مخ کېږي لکه: وژل، غلامي، له خپل هېواده شړل او داسې نورې سزاوې. يهوه خدای خپل ځانګړي قوم (اسراييلو) ته په يوه اوږده وينا کې ګوتڅنډنه کوي او وايي:**«خو که ما ته غوږ ونه نيسئ او زما اطاعت ونه کړئ، زما قوانين ونه منئ او هغه تړون مات کړئ چې له تاسو سره مې کړی دی،** نو هغه مهال به زه تاسو ته سزاوې درکړم، وېره، وژونکي ناروغۍ او تبې به درولېږم، ستاسو سترګې به ړندې او مړه به مو کړي، په [کرنيزو] ځمکو کې به خوشې او چټې تخمونه وکرئ، ځکه چې ستاسو دښمنان به د هغوی حاصلات وخوري. زه به ستاسو پر خلاف پورته شم او تاسې به د دښمنانو پر وړاندې خپلې پښې سپکې کړې او وبه تښتئ. هغه کسان چې له تاسو کرکه کوي پر تاسو به حکومت وکړي، **تر دې چې له خپلې سيورې به هم ډارېږئ.**

**خو که بيا مو هم زما اطاعت ونه کړ** نو ستاسو د ګناهونو سزا به له مخکې، اووه ځله سختې وي. ستاسو ځواک چې پر هغه وياړئ، وبه يې ځپم. ستاسو آسمان به بې‌بارانه او ځمکې به مو وچې شي، خپل ځواک به له لاسه ورکړئ، ځکه چې ستاسو ځمکې به حاصل او ونې به مو ميوه درنه کړي.
**خو له دې ټولو وروسته، که بيا مو هم زما اطاعت ونه کړ او ما ته غوږ ونه نيسئ** نو بيا به ستاسو د ګناهونو له امله اوه چنده ډېرې بلاګان دربانديې راولم، وحشي ځناور به درولېږم چې ستاسو زامن ووژني او څاروي مو مړه کړي، د ټولنې شمېر به مو ټيټ شي او ستاسو لارې به بې لارويو او خالي پاتې شي.
**خو سربېره پر دې که بيا هم اصلاح نه شوئ او زما پر خلاف مو چلند وکړ** نو هغه مهال به زه ستاسو پر خلاف چلند وکړم او تاسې به د خپلو ګناهونو له کبله اووه چنده، له تېرو سزاګانو سخت مجازات کړم.
**که زما تړون مات کړئ،** له تاسو به غچ واخلم او ستاسو پر وړاندې به جګړه پيل کړم. کله چې د دښمن له لاسه خپلو ښارونو ته وتښتئ، نو هلته به وبا درولېږم او د خپلو دښمنانو پر وړاندې به مات شئ، د اوړو زيرمې به مو له منځه يوسم، داسې چې يو تنور به د لسو کورنيو د ډوډۍ پخولو څخه هم اضافه وي، کله چې خپله برخه ډوډۍ وخورئ، بيا به هم وږي وئ.
**له دې سره، سره که بيا ماته غوږ نه شوئ او اطاعت مو ونه کړ،** نو لا په قهر کېږم او ستاسو د ګناهونو سزاوې به له تېرو سزاوو څخه اوه واره سختې وي، **تر دې چې د سختې لوږې له امله به د خپلو زامنو او لونو [غوښې] وخورئ.**
هغه بتونونه به وران کړم چې تاسو د غونډيو پر سرونو جوړ کړي دي او هغه قربانځايونه چې په هغوی کې [د بتانو لپاره] خوشبويۍ لوګي کوئ، له خاورو سره خاورې کړم. **ستاسو جنازې به ستاسو د بېروحه بتانو پر وړاندې وغورځوم،** له تاسو به کرکه وکړم. ښارونه به مو ويجاړ او ستاسو [د بتانو] عبادتځايونه به وران کړم، قربانۍ به مو قبولې نه کړم. هو، ستاسو هېواد به له اوسيدونکو تش کړم او دښمنان به مو هلته استوګن شي، هغو بلاګانو ته به هک حيران شئ چې ستاسو پر سر يې راولم.
د جګړې بلا به پر تاسو نازله کړم چې د قومونو په منځ کې خواره واره شئ، ستاسو هېواد به تش او ښارونه به مو ويجاړ کړم... .
هغه شمېر کسان چې د دښمن هېواد ته په اسارت بيول شوي وي، داسې کار به وکړم چې هلته هم **په پرله‌پسې وېره او وحشت کې پاتې شي، د ونې د پاڼې له غږ څخه (چې باد يې د ځمکې پر مخ خوځوي) به منډې وهئ، په دې ګومان چې دښمن درپسې دی، که څه هم څوک درپسې نه وي پر ځمکه به غورځېږئ او تېښته به کوئ او د تېښتې پر مهال به يو پر بل باندې پرېوځئ، داسې لکه له جګړې چې منډې وهئ، دومره دمه به ونه لرئ چې د خپلو دښمنانو پر**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**وړاندې تم شئ،** د قومونو په منځ کې به مړه شې او د خپلو دښمنانو په منځ کې به ووژل شې. پاتې کسان به د دښمن په هېواد کې د خپلو ګناهونو او د خپلو نیکونو د ګناهونو له امله له منځه ولاړ شي.»[5]
«دا هغه احکام، قوانین او مقررات دي چې یهوه خدای د سینا په غره کې د موسی په منځګړیتوب د اسراییلو قوم ته ورکړل.» (لاویان:۲۶/۴۶)

سربېره پر دې، موسی یهودو ته ګوتڅنډنه کوي چې که د یهوه خدای اطاعت ونه کړي نو له بېشمېره او بېساري مجازاتو او لعنتونو سره به مخ شي. د موسی د دغو لعنتونو څو بېلګې دا دي: یهوه خدای به له لرې سیمې داسې قوم درولیږي چې په ژبه یې پوه نه شئ، هغوی به د عقاب په څېر پر تاسو راکوز شي، دغه ډاړونکی قوم به ... ستاسو ټول ښارونه کلابند کړي، د ښارونو لوړ او ټینګ دېوالونه به وران شي، هغه دېوالونه چې فکر مو کاوه تاسو به یې وساتي. د کلابندۍ په هغو سختو ورځو کې به **د خپلو زامنو او لوڼو غوښې هم وخورئ. ډېر ښه او زړهسواند سړی به پر خپل ورور او خپلې ګرانې ښځې او خپلو زامنو باندې (چې لا ژوندي پاتې وي) رحم ونه کړي او د خپلو زامنو یوه ټوټه غوښه چې خوري یې، وربه یې نه کړي،** ځکه چې د ښار د کلابندۍ له امله د خوراک لپاره نور څه نه لري. تر ټولو نازکه او لطیفه ښځه (چې نه یې غوښتل د خپلو پښو د ګوتو سرونه پر ځمکه کېږدي) وبه نه غواړي هغه څه چې خوري، خپل مېړه او ګرانو زامنو ته ورکړي. **[هغه] غبرګوني ماشومان چې زېږولي یې وي له نورو څخه، د دې لپاره پټوي چې پهخپله یې وخوري.** د کلابندۍ پر مهال چې کله دښمنانو په محاصره کې شی له دا ډول وحشت، لوږې او خواشیني سره به مخ شئ.» (ګردان:۲۸/۴۹تر۵۷پورې)



(د غزې وږې او ایسار ماشومان)

نېټه:۱۴۰۳/۲/۲۴ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلی محمد انور اخڕ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.]

[5]:د لاویانو کتاب:۲۶/۱۴تر۳۹پورې؛ د ګردان کتاب:۲۸/۱۵تر۶۷پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ